## د افغـــــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۲/ شوال المکرم/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د۲۲ / ثور /۱۴۰۲هـ، ش**

# په اسلام کې د بدفالۍ منع او ددوه اخترونو ترمنځ د نکاح کولو حکم

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله صلى الله عليه وعلى آله ورضي عن صحابته وأتباعهم إلى يوم الدين، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى في محكم كتابه وهو اصدق القائلين: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} آل عمران: (۱۰۲)

وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (اللَّهُمَّ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُكَ وَلَا طَيْرَ إِلَّا طَيْرُكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ). مسند أحمد

د جاهليت په زمانه کې په خلکو کې بدفالي موجود وه. کله به چې څوک سفر ته تللو يا به يې د کوم کار اراده وکړه بدفالي به يې کوله او په سفر تللو څخه به راګرځيده او دکوم کار اراده به يې چې وه هغه به يې نه کولو.

په جاهليت کې به چې څوک دکوم سفر په اراده د کوره ووتلو که چيرې مارغه به يي د ښي طرف څخه والوتلو سفر ته به يي ادامه ورکوله او که چيرې مارغه به يې د کيڼ طرف څخه والوتلو له سفر څخه به منصرف شو او دا به يې بدفالي ګڼله.

د جاهليت په زمانه کې په مختلف قسم شيانو بدفالي نيول موجود وه، په ځينو مارغانو بدفالي نيول لکه بوم، کارغه اوداسې نور د همدې وجی نه په عربي کې بدفالۍ ته (طيرة او تشاؤم) ويل کيږي، په ځينو ورځو او مياشتو بدفالي نيول لکه د صفر او شوال په مياشتو بدفالي نيول چې تر نن ورځ پورې په خلکو کې دا بدفالي موجود ده او د صفر او د شوال په مياشتو کې واده نه کوي. همدا شان دمياشتې په ديارلسمه ورځ، په چهارشنبې او پنجشنبې ورځ بدفالي نيول، په نومونو بدفالي نيول آن تردې چې د ځينو خلکو په آوازونو او کلماتو بدفالي نيول لکه په (هلاکت) او (سوء) کلماتو باندې بدفالي نيول او په بدشکله بوډۍ ښځه باندې بدفالي نيول.

کله چې د اسلام سپيڅلې دين راغی نو د بدفالۍ څخه يې منع وکړه او حتی بدفالۍ ته يې شرک وويل .

بدفالي په تیرو امتونو کې هم اوړده مخینه لري چې په کفارو به په سپیڅلو پیغمبرانو بدفالي نیوله.

بني اسرائیلو په حضرت موسی علیه السلام باندې بدفالي نیوله. الله جلاله فرمایلي دي: {فَإِذَا جَاءتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُواْ لَنَا هَذِهِ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُواْ بِمُوسَى وَمَن مَّعَهُ أَلا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ عِندَ اللّهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ} الاعراف:(۱۳۱)

ترجمه:- نو کله چې به پر دوی خوشحالي راغله ویل به یې مونږ د همدې حقدار یو او که چیرې پر دوی بـه څـه تکلیـف راغی نو بدفالي به یی نیوله په موسی او په هغه چا چې د هغه سره وو .خبردار! بیشکه خبره همدا ده چې ددوی بـدفالي له الله تعالی سره ده او لیکن ددوی زیاتره نه پوهیږي.

حضرت صالح علیه السلام ته قوم وویل: {قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَعَكَ قَالَ طَائِرُكُمْ عِنْدَ اللَّهِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ} النمل:(٤٧)

ترجمه:- هغوی وویل مونږ په تا او په هغه چا چې له تا سره دي بد فالي نیولی ده . هغه وویل: ستاسو بدفالي د اللـه پـه نزد ده، بلکې تاسو داسې قوم یی چې ازمایل کیږئ.

په حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم هم د مکې مشرکانو بدفالي نیولی وه.الله جـل جلالـه فرمـایلي دي:{وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِكَ قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ فَمَالِ هَؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثاً} النساء:(۷۸)

ترجمه:- او که چیرې پر دوی څه خوشحالي راشي (نو) وایې دا د الله له جانبه ده او که پر دوی څه سختي راشي (نـو) وایې (ای نبی !) دا ستا له طرفه ده . ته (ورته ) ووایه دا هرڅه (خوشحالي او تکلیف) دالله له خوا دي (نـو) پـردې قـوم څه شوي دي چې نژدې نه دي چې په څه خبره پوهه شي.

په افغانستان کې هم نن صبا د جاهلیت د زمانې په شان په خلکو کې د بدفالی مرض را پاتې دی لکـه د چهارشـنبې پـه ورځ باندې بدفالی نیول، د صفر او شوال میاشتو باندې بدفالي نیول ، خلـک پـه دې میاشـتو کـې واده نـه کـوي او ددې میاشتو کې واده کول د بدبختی لامل ګڼي. همدا راز د صفر میاشت د خیر او برکت میاشت نه ګڼي او ځیني خلک ددوه اخترونو په منځ کې واده کول بده ګڼي او ددوه اخترونو په منځ کې واده کول غیر مشروع ګڼي چې دا مرض هم لـه تیـر ځخه راپاتې دی. همدا راز په ناوړه نومونو او آوازونو باندې بدفالي نیول کیږي. په ناوې پورې بـدفالي هـم ددې وخـت د مسلمانانو عادت دی.که چیرې کومه ښځه کوم کورته واده شي او د واده په لومړیو ورځو کې په کور کې کوم مصیبت او تکلیف پیښ شي دوی وایي ددې ښځې پل بدبخته دی. د هفتې په ځینو ورځو کې د پیسو حسابول او نـور معـاملات او سفر نه کوي او دغه ورځې بدبخته ګڼي.ځیني خلک یوه پښه په بله پښه ایښول بدشګون ګڼـي ، ځینـې خلـک د ګوتـو ځخه ټکونه ویستل بدشګون ګڼي چې داټولې خبرې پـه اسـلام کـې نشـته او بایـد چـې مسلمانان لـه دې ځخـه ځـان وساتي.په ځینو خلکو کې دا رسم دی چې پس له مازیګره په کور کې جارو وهل بدشګون ګڼـي او یـا د سـفر پـر وخـت جارو وهل بدشګون ګڼي په کارده چې مسلمان د کفارو او هندوانو په شان بدفالي ونه کـړي او د هـر ډول بـدفالی ځخـه ځانونه وساتي.

### د بدفالی ضررونه:

بدفالي حقیقت دادی چې دا هسې بد ګمان کول دي او هغو شیانو ته د بدوالي نسبت کول دي چې په عالم اسباب کې د کار په ښه والي او یا بدوالي کې هیڅ تأثیر نلري.

۱. بدفالي هغه کړنه ده چې د انسان عقیده متزلزله کوي او د مسلمان توحید ته ضرر رسوي.

۲. په بدفالۍ کې په الله تعالی بدګماني کول دي.

۳. په بدفالۍ کې زړه په غیرالله پورې تړل دي چې دا ډېر خطرناک کار دی، ځکه په بدفالۍ کې عقیده په اسبابو جوړېږي او اسباب مؤثر حقیقي بلل کیږي، چې په حقیقت کې دده عقیده په غیرالله جوړه شوه . دهمدې املـه بدفالۍ ته په حدیثو کې شرک ویل شوی دی.

٤. په بدفالۍ کې شیطان په انسان مسلط کیږي او تل ورته ډول ډول وسوسې وراچوي.

۵. همدا راز په بدفالۍ کې پر الله تعالی توکل ساتل کمزوری کیږي او د چا چې پر الله تعالی توکل کمزوری شو ټول ژوند کې مضطرب کیږي او دالله تعالی مرسته ور سره نه وي.

٦. په بدفالۍ کې انسان هر وخت د بلاګانو توقع لري.

۷. بدفالي د انسان څخه تصمیم او کلک عزم اخلي.

۸. په بدفالۍ کې دکامیابۍ څخه نااميدي رامنځ ته کیږي.

۹. بدفالي نه ښه چاته رسوي او نه بد رسوي.

۱۰. بدفالي نیول د عقل د کمزوری دلیل دی.

## نیک فال نیول جائز دی:

د بدفالۍ مقابل کې نیک فال دی چې هغه جائز دی.

د نیک فال حقیقت دادی چې څوک د کوم معین کار اراده وکړي او بې له قصده یو څه واوري او یا څه ووینـي پـه دغـو اوریدو او لیدو سره خوشحاله شي او دهغه کار په کولو کې یې د زړه اطمینان نور هم زیات شي او داسې فکر وکړي چې دالله تعالی په مرسته او کومک سره ددغه کار انجام ښه دی.

که چیرې څوک کوم کار کول وغواړي او د ارادې څخه وروسته نیک الفاظ واوري او یا داسې څه ووینې چې هغه دانسان زړه ته خوښې ور وبښي او دا د کار د ښه انجام ، خیر او برکت لپاره نیک فال وګرځوي په دې کې کومه ګناه نشته.

په نیک فال کې د کار پریښودل نه وي، بلکې د خپل کار په باره کې ورته د زړه خوشحالي او اطمینان ور په برخه کیږي.

په نیک فال کې په الله تعالی توکل موجود وي، په الله تعالی نیک ګمان درلودل موجود وي، د کار د ښـه انجـام پـه اړه امید موجود وي او په کار کې د خیر او برکت امید پروت وي.

د بدفالۍ حرمت او د نیک فال جواز په نصوصو کې:

لکه مخکې مو چې وویل نیک فال جائز او بدفالي حرامه او ناروا ده.

الله جل جلاله د تیرو امتونو د بدفالۍ قباحت بیان کړی دی.

الله تعالى فرمايلي دي:{فَإِذَا جَاءتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُواْ لَنَا هَذِهِ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُواْ بِمُوسَى وَمَن مَّعَهُ أَلا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ عِندَ اللّهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ} الاعراف:(۱۳۱)

الله تعالى فرمايلي دي:{قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَعَكَ قَالَ طَائِرُكُمْ عِنْدَ اللَّهِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ} النمل:(٤٧)

په حديث شريف کې راځي: عن أنس - رضي الله عنه - قَالَ : قَالَ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - : ( لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيرَةَ ، وَيُعْجِبُني الفَأْلُ. قالُوا : وَمَا الفَأْلُ ؟ قَالَ :( كَلِمَةٌ طَيِّبَةٌ ) . متفق عليه

ترجمه:- د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (پرته د الله دارادې) د مرضونو نقليدل نشته او بدفالي نشته او ماته تعجب آور نيک فال دی.صحابه کرامو وفرمايل چې نيک فال څه شی دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: نيک فال خوږه خبره ده.

د مسلم په روايت کې راځي: (قال الكلمة الصالحة يسمعها أحدكم) نيک فال هغه نکيه خبره ده چې له تاسو يې څوک اوري.

په حديث شريف کې راځي چې په صفره مياشت بدفالي نيول نشته.

نبي عليه السلام فرمايلي دي:( لَا عَدْوَى وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ).متفق عليه

ترجمه:- نشته د مرض نقليدل(پرته دالله د حکم څخه) او نشته د صفرې پر مياشت بدفالي نيول او نشته په هامه مرغه باندې بدفالي نيول.

په يو بل حديث کې راځي: (عن عُروة بن عامر - رضي الله عنه - قال : ذُكِرَتِ الطِّيَرَةُ عِنْدَ رَسولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - ، فقالَ : ( أحْسَنُهَا الفَألُ . وَلاَ تَرُدُّ مُسْلِماً فإذا رَأى أحَدُكُمْ ما يَكْرَهُ ، فَلْيَقُلْ : اللَّهُمَّ لاَ يَأتِي بِالحَسَناتِ إلاَّ أنْتَ ، وَلاَ يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إلاَّ أنْتَ ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ بِكَ ) رواه أبو داود بإسناد صحيح .

ترجمه:- د عروه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې د نبي عليه السلام په حضور کې د بدفالی ذکر وشو. پيغمبرعليه السلام وفرمايل: دبد فالی غوره يې نيک فال دی، هغه چې مسلمان له خپل هوډ څخه رامنع نکړي. کله چې يو د تاسو څخه داسې څه ووينې چې بد يې ګڼي نو داسې دي ووايې: (اللَّهُمَّ لاَ يَأتِي بِالحَسَناتِ إلاَّ أنْتَ ، وَلاَ يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إلاَّ أنْتَ ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ بِكَ). اى الله ! نه راولي نيکي مګر ته يې او نه دفع کوي بدي مګر ته يې ، نشته ګرځيدل له ګناه او نشته طاقت په نيکی مګر پر تاده.

په يو بل روايت کې راځي: عن بريدة -رضي اللَّه عنه- أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- «كان لا يَتَطَيَّرُ من شيء، وكان إذا بعث عاملا سأل عن اسمه ؟ فإذا أعْجَبَهُ فَرِحَ به ، وَرُئِيَ بِشْرُ ذلك في وجهه ، وإن كَرِه اسمه رُئِيَ كَرَاهِيةُ ذلك في وجهه ، وإذا دخل قَرية سأل عن اسمها؟ فإن أعجبه اسمها فرح بها ، وَرُئِيَ بِشْرُ ذلك في وجهه ، وإن كره اسمها رُئِيَ كراهية ذلك في وجهه). أخرجه أبو داود

ترجمه:- د بريده رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به بدفالي هيڅکله نه کوله او پيغمبر عليه السلام به چې کله کوم عامل (نماينده) چيرته ليږلو د هغه څخه به يې د هغه د نوم پوښتنه کوله که چيرې ښه به ورته ښکاره شو په هغه به خوشحاله شو او ښکاره کيده به خوشحالي د هغه په مخ مبارک کې او که چيرې دهغه نوم به ورته بد ښکاره شو نو دا بد ګڼل به يې په مخ مبارک کې ښکاره کيده.

په یو بل حدیث شریف کې بدفالۍ ته شرک ویل شوی دی.

عن عبد اللَّه بن مسعود -رضي اللَّه عنه- أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- قال : (الطِّيرةُ شِرْك ، الطِّيرةُ شرك ، الطِّيَرَةُ شِرْك - ثلاثا - وما منَّا إلا ، ولكنَّ اللَّه يُذهبُه بالتوكل). أخرجه أبو داود.

ترجمه:- د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بدفالي شرک دی، بدفالي شرک دی، بدفالي شرک دی دری ځله یې دا لفظ تکرار کړ او نشته زمونږ څخه یو تن (مګر په زړه کې ورته بدفالي پیداکیږي) البته دغه بدفالۍ لره توکل له منځه وړي.

امام ابن حجر وایي: (وإنما جعل ذلك شركًا لاعتقادهم أن ذلك يجلب نفعًا أو يدفع ضرًا فكأنهم أشركوه مع الله تعالى). فتح الباري

ترجمه:- بدفالي ځکه شرک وګرځول شوه چې هغو مشرکینو به دا عقیده درلودله چې بدفالي نفع رسوي او یا ضرر دفع کوي؛ ګویا چې دوی بدفالي د الله تعالی سره شریکه وګرځوله.

په یو حدیث کې راځي چې نبي علیه السلام به په نیکو نومونو سره نیک فال نیولو .

(عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعْجِبُهُ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةٍ أَنْ يَسْمَعَ يَا رَاشِدُ يَا نَجِيحُ ) رواه الترِّمذي

ترجمه:- د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام به خوښ ګڼله چې کله به کوم کار ته ووتلو چې واوري داسې اواز لره ای راشده ! او ای نجیحه!

( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَدَّتْهُ الطِّيَرَةُ مِنْ حَاجَةٍ فَقَدْ أَشْرَكَ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا كَفَّارَةُ ذَلِكَ؟ قَالَ: أَنْ يَقُولَ أَحَدُهُمْ: اللَّهُمَّ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُكَ وَلَا طَيْرَ إِلَّا طَيْرُكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ). مسند أحمد

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : څوک چې راوګرځوي ده لره بدفالي دکوم حاجت څخه په تحقیق سره ده شرک وکړ. صحابه کرامو وویل: ای دالله رسوله ! ددې کفاره څه شی دی؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: داچې له هغوی نه دې یو کس ووایي: : اللّهمّ لا خير إلّا خيرك، ولا طير إلّا طيرك، ولا إله غيرك). ای الله ! نشته خیر مګر ستا دی او نشته بدفالي مګر نیک فال دی ستا او نشته بل اله پرته له تا.

د طریقه محمدیه مؤلف او د هغې شارح لیکلي دي: ( وَهُوَ حَرَامٌ ) بِالِاتِّفَاقِ وَإِنَّمَا الِاخْتِلَافُ فِي الْكُفْرِ كَمَا ذَهَبَ إلَيْهِ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ) بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية

ترجمه:- بدفالي حرامه ده په اتفاق سره . البته په کفر د بدفالي کوونکي شخص کې اختلاف دی لکه چې د ځینې فقهاوو چې دا نظر دی.

ددوه اخترونو ترمنځ نکاح کول مشروع او غیر مکروه عمل دی.

په زیاتو خلکو کې دا مشهوره ده چې د دوه اخترونو ترمنځ نکاح کول جواز نلري او دا کار یو ډول بدفال ګڼي.

د دوه اخترونو ترمنځ نکاح کول او ښځه واده کول جائز او حلال کار دی او په دې باره کې شرعاً کوم مشکل نشته او دخلکو دا خبره بې اساسه ده، په کارده چې ددې بدفالی څخه ځانونه وژغورې.

په دې اړه علامه ابن عابدين شامي رحمه الله فرمايلي دي: [ قَالَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ : وَالْبِنَاءُ وَالنِّكَاحُ بَيْنَ الْعِيدَيْنِ جَائِزٌ وَكُرِهَ الزِّفَافُ ، وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ { لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ تَزَوَّجَ بِالصِّدِّيقَةِ فِي شَوَّالٍ وَبَنَى بِهَا فِيهِ } وَتَأْوِيلُ قَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ { لَا نِكَاحَ بَيْنَ الْعِيدَيْنِ } إنْ صَحَّ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ رَجَعَ عَنْ صَلَاةِ الْعِيدِ فِي أَقْصَرِ أَيَّامِ الشِّتَاءِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَهُ حَتَّى لَا يَفُوتُهُ الرَّوَاحُ فِي الْوَقْتِ الْأَفْضَلِ إلَى الْجُمُعَةِ). [ رد المحتار ]

ترجمه:- په البزازيه فتاوی کې راځي : نکاح کول په مابين ددوه اخترونو کې جائز ده خو واده کول په کې مکروه دي، خو مختار قول دادی چې واده کول هم مکروه نه دي.ځکه پيغمبر عليه السلام حضرت عائشه رضي الله تعالی عنها سره په شوال کې نکاح وتړله او په همدې مياشت کې يې کورته واده کړله. او ددې حديث( لَا نِكَاحَ بَيْنَ الْعِيدَيْنِ ) معنا چې که چيرې دا حديث صحيح وي داده چې نبي عليه السلام د ژمي تر ټولو په لنډو ورځو کې د اختر له لمانځه څخه دجمعې په ورځ راوګرځيد ددې لپاره چې دجمعې لمانځه ته په افضل وخت کې تلل ور څخه فوت نشي داسې يې وفرمايل: چې ددوه اخترونو ترمنځ نکاح نه کيږي.

نو ددې حديث که چيرې صحيح وګڼل شي نو مطلب دادی چې کله د جمعې په ورځ کې اختر راشي نو وخت کم وي په کارده چې خلک د جمعې لمانځه ته په افضل وخت کې تللو لپاره ځانونه فارغ کړي او په نورو کارونو ځانونه مشغول نکړي.

په فتاوی فريديه کې مفتي محمد فريد رح لکلي دي :(د دوؤ اخترونو مينځ کښې نکاح بغير د شک او شبهې نه او بغير د کراهت نه جائزده د نبی کريم نکاح مبارک د حضرت عائشې سره هم په دې مياشت کی شوې وه او (لا نکاح بين العيدين) اول خو حديث نه دې، يا ددې نه مراد جمعه او صلاة العيددي او دا واقعه جزئيه ده، نه کليه کما في الشامية).